مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهانددوکتورم.ا. زیار

۲۰۱۸/۰۸/۲۰

# څو ګرامري پوښتنې او ځوابونه

## د کامران منګل د دې پوښتنو په غبرګون کې:

[کولای شې ماته يوڅو داسې کړونه راوښيې چې په تولپېرکې کارېږي لکه خو ښېدل (زما دا نه خوښېږي)، يا بد راتلل (زما بد ترې راځي)...کومه غونډله سمه ده
۱) ما (انګرېزي زده ده) ، که۲) زما انګرېزي زده ده؟]

تولنوم+کړ (مضاف اليه + فعل)
هغه کړ چې کړند (فاعل) يې اوښتی تولپېر (مغيره اضافي حالت) لري
زما-يې څه، ستا-يې څه،د ده ...يې څه.
زما-زمرى- نه خوښېږي، د زمري- زه نه خوښېږم...

يوه خبري (indicative) يا په ناسمه دوديزه نومونه((بيانيه))پښتوغونډله (جمله) له لويه سره ددرستو هندواروپايي،سامي (عربي، عبري) او ځينو نورو ژبوغونډې پر دوه ګونو برخو وېشنه مومي: نوموالله برخه اوکړواله برخه،او په يوڅه ارت جاج (مفهوم)،پر اېښي (مسنداليه) اواېښوني (مسند).
لومړۍ ته له دې کبله نوموالله وايو چې دغلته يو نوم يا نومځرى ځانته، يا له اړو ندو وييکو (اداتو)او ټاکندويو(ستاينوم، شمېرنوم...) سره؛ او کړواله داما‌نا چې غوره توکى يې يوګردان شوى کړ (فعل) او لړوډېر مل کېدونکى کړى (مفعول) له خپلو ورته توکواو ټاکندويو سره رانغاړي)-کړولونه او بشپړنونه (قيدونه او متممونه) بيادواړو خواته راتلای شي.
خو،پښتو د ډېرو نورو ژبو په توپير اړوند نوم له يو لړشمېر کړونو سره داوښتي تولنوم (مضاف اليه) بڼه راخپلوي،اوکړ (فعل) ورسره بيادتولنومي (مضاف)،او هممهاله د يوې څرګندنې يا اصطلاح (expressions) بڼه.

په اړونده غونډله کې دا راز کړ يوه داسې کړن ته نغوته کوي چې يو (څوک) يا(څه) په پسيف ډول را نغاړي،په نورو ټکو، ترسروونکى پکې دومره زغرد او سيده چار (نقش) نه لري.؛ يانې د يوچاروال (اکتيف)انډول کړ هومره نه.
د ښه ترا رڼاوي لپاره (لورېدل ) او (لورول) سره دغونډلو په چوکاټ کې پرتله کوو:
(لورېدل)، چې د بېچار (پسيف) کړ په توګه يې ترسروونکى يو تولنوم (مضاف) راځي، له نومځرو ( زما-زمور، ستا-ستاسې، د ده- د دې-د دويو) سره، لکه:
زما- پر تا ښه لورېږي؛ له نومونو سره، لکه: د پلوشې پر خپل ورور ښه لورېږي...؛
خو د چاروال ځېل (لورول) ترسروونکى يې زمونږ د موخې پرخلاف تولپېر نه را خپلوي،لکه: زه پرتا ښه لوروم، يا پلوشه پر خپل ورور ښه لوروي...
همدا راز د ښاغلي منګل د بېلګو په لړ کې د←(خوښېدل) پر وړاندې (خوښول) درواخله او داسې نورې چې روسته پرې رڼاچول کيږي.

هرګوره،په تولپېرکې کارېدونکي يووستوي کړونه ښايي، تر يوه درځنه تېرى و نه کړي، هغه يې هم، يوازې نالېږند(لازمي)ځېلونه چې هممهاله څرګندنې رغوي ،که تول سربل (د) يايې ځايناستي ز- س (زما-ستا)سربل غورځول کيږي هم،خو نوم يا نو مځرى اوښتى پاتېږي،لکه مونږ شمال ختيځوال چې وايو (تازده او خدا ى يانې ته او خداى چې خبره داسې ده!) اوسوېل-ختيځوال (کرلا نې)تر ډېره سربل غورځوي،لکه د ستر ويناوال خو شال په شعر کې(مازده-تازده ...)-کامران پرې (←)د يوه کرلانې په توګه هم ټينګارکوي چې ګړدود يې ماپر ۱۳۴۲لکښلى


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دی. خو پروړاندې يي  په درو نورو ګردو دي ډلوکي ښايي،دغه  غورځن(حذف)، نه غړېدونکي ته خوندورکړي اونه پراورېدونکي ښه ولګي او له همدې  لامله له ټوليزې (کره پښتو)  سره اړخ لګولای نه شي!

د (اوښتي تولنوم+کړ) نوموال اوکړوال ډول:
الف- نوموال ډول چي لهـــ←اکرښود مرستيالکړ (ول-استل...) سره نوموالي غونډلې رغوي:
اکرښود مرستيالکړ (ول- استل- سته-شته)  چې انګرېزي انډول يې(to be) کړ دی: (زما -ستا) سره  نور(څه دي؟)،له ماسره (د زلمي څه کار) نشته، (د ده) او (د زمري) سره  څه پوله  پټی شريک نه (دي) يا نه (دي)... همداراز← زمايي څه؛
(ب) کړوال ډول چي له ناليږند مرستيالکړ (کېدل – شول-) سره کړوالي غونډلې رغوي:
(څه وشول)، (څه به شوي وي) دغلته (وي)اکرښود مخني مرستيالکړ بشپړوي،نه چې د اکر ښود په توګه نوموله غونډله ورغوي.

هرګوره،ترښتي نومکړ (نوم+ کړ←) هم  پر خپل وار له ناليږند مرستيالکړ (کېدل) سره ناليږنده کړواله غونډله رغوي، لکه:  زما کارته ډېره نه لګي)، او له اکرښود (ول- استل-سته) سره نوموالهٔ  غو نډله، لکه: زما تبه ده، زماليکلوست ياد دی؛ خو له ليږند (متعدي) مرستيالکړ (کول-کړل) سره چې  بيا ليږنده غونډله رامنځته کوي، بياهم زمونږ له موخي سکالو سره اړخ نه لګوي،لکه: ترهګري له اسلام سره اړخ نه لګوي، يا زمر څنګوېردي (پښتی) ته ډېره وهلي ده. (← د نومکړنوري بېلګي).
بېدودي (استثنأ)، لکه (ډپاسيف) کېدل تر څنګ (اکتيف) کول-کړل هم  د (تو لنومپېر+ کړ) موخه پرځای کوي، خو له دې سره  تولنوم  پاسيف (مفعول) دريځ راخپلوي،لکه : په دې لاندې لنډۍ کې چې د (کول) بل ځېل (کړ)  يې رانغښتی:

(زما) دې څه (وکړه ) چې ولاړې
ځان دي پخپله بې ديدنه کړ مينه
دغلته (دي) د اوښتي(تا) انډول دی.
مانا يې داشوه چې دغلته (زما) تولنوم هم په نادوده توګه لرکړی (dative)  او  (څه) لنډکړی (accusative)او (دې)کړند(فاعل) او هممهاله اېښی( مسندالیه راغلی دی.
له (کېدل) سره يو لړشمېر ستاينومکړونه (← ويپيوهنه ۱۵۴)، تولنومونه هم را منځته کوي، لکه: پېرزو کېدل په دې غونډله کې د هماغه (لوربدل) همماليزه ځرګندنه رغوی، لکه:
(زما) درباندې ښه پېرزو کېږي، نه بد؛
له (تاند) ستاينوم سره  بيا د ليږند (کړل) په ملتيا،لکه زما د يوه غزل  په دې بيتونو کې (زما) يا (مې) کړيوال اېښی (مفعولي مسنداليه) راځي:
توبو د اسوېلو مې ګناهونه کړه راتاند
د سرو اوښکو نېزو مي دوزخونه کړه راتاند
مالګيني ښکلا متي خپل کسات راځني واخېست،
زمايي د عمرونو پرهرونه کړه راتاند...
(استاد حبيبي ۱۳۶۰ل.: په اوسني پښتوشعر کي د ژوند څپې۳۹)

دادی،د سکالو د پوره رڼاوي په موخه يې د منګل له دوو بېلګو راپيلوو،  لومړی بېلګه (خوښېدل،بديا ښه راتلل،زما له نورو سرباري هممانيزونو سره:
(۱) يو څه يا څوک د چا  (نه) خوښېدل، لکه په غونډلوکي: زماانار خوښېږي، که (ستا) غل و غدو نه خوښېږي، (زما) ټګ او بډيخور نه خوښېږي... ؛
(۲) څوک -څه د يا (له) چا ښه -بد راتلل، يا څوک د چا ښه-بد اېسېدل او يا ورته ښه-بد برېښېدل-ښکارېدل... دغه او پاس د جاج او مانا له پلوه سره دومره توپير نه لري، يوازې يې اړوند توکي او بيا وييکي سره بېلوي، او په غونډلو کي يې دغه جوليز توپيرونه پوره ډاګيزه کېږي:
له زمري څخه (د هر سپي او سړي بد راځي) يا: زمری (د هر سپي او سړي) بد را ځي-بدې شي) او ياهم  (بدېي شي،نه يې خوښوي، ښه يې نه اېسي،ورته ښه نه برېښي...) او داسي نور.
دويمه بېلګه (زده-)
اوښتی تولنوم+(زده-) د نومکړستي په توګه لومړی له  ناليږند مرستيالکړ کېدل او بياله ←اکرښودکړ(-ول-استل... )سره ګردانوو چي يوه ساده ځرګندنه رغوي؛  (ياد-) يې د هممانيز يا ورته مانيز په توګه هم لړوډېر ځايناستی کېدای شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولـئ

لومړی- له کېدل سره، لکه: (زما-زموږ،ستا-ستاسې،د ده- ددې- ددويو) انګر ېزي نه زده کېږي؛ ( زما) خو (زده نه شوه)، که (ستا زده کېږي)، ماته يې چم راو ښيه! (زماد وروږ) هم له ډېرې خوارۍ سره سره (نه زده شوه) او (نه به يې زده شي)...؛
دويم- له ول- استل... سره، لکه: (زما)- (ستا) او (زموږ- دېولو)،ان (هټيوالو) رو سي (زده وه)، خو اوس (زما) هېره (ده )او (ستا) لاتراوسه لږوډېره (زده ده) او همدا سې (د نورو ډېرو)؛ ((يو څه چاته راتلل)) ځرګندنه بې تولپېره هم د (زده-ياد- پو هېدل) ورته جاج ښندلای شي، لکه: (ما- موږ، تا-تاسې،ده-دې- دويو) ته انګرېزي (نه) راځي؛ مانا يې داشوه چې دغلته نومځري يا نومونه لرکړي (باوا سطه مفعولونه) راځي او اوښتی پېر يې هم تولوالی (ملکيت يا اضافت) نه ، بلکې د (ته) له لامله دي چې اړوندکړي (مفعولونه) يې د کړاپښي (مسنداليه) يا (مرجع) ګرځولي او زموږ له سکالو سره اړخ نه لګوي!

(۳) اوښتی تولنوم+ لورېدل (يوڅه دچا پر بل پېرزو کېدل)، لکه:
(زما-زموږ،ستا-ستاسې،د ده- ددې- ددويو) پر تا (ډېر څه لورېږي)، خو وسه يې نه لرم -نه لرو، (زما-زموږ،ستا-ستاسې،د ده- ددې- ددويو) پر تا (نه لورېږي) چې ورې پاتې شې! (دومره سختي نه لورېږي) ، (د ده -د دې- د دوی؛ دهغه- هغې- هغوی) پرما او تا(مرګ و درد نه لورېږي)، يا: (نه دی لورېدلی)،(د زمري).دا پر ما (نه لورېږي) چې زه دې د يوې څوکی څښتن شم...؛ پر موږ (د ګاونډو هېوادو) سوله کله (لورېږي) ...؛

(۴) اوښتی تولنوم +رغېدل (يو څوک له چابې اړې-بې نيازه کېدل) ،لکه:
(زما-زموږ،ستا-ستاسې،د ده- ددې- ددويو) له تا( نه رغېږي)-هم (نه رغېږي، (دپلرو) او (... زامنو)سره (نه رغېږي)يا: له مورو پلاره (د بچيانو نه رغېږي)،له تا تا(.زما)کله (نه ده رغېدلې)...؛له اکرښود سره:له موروپلاره (د بچيورغېدن نشته- نه وو)... ؛

(۵) تولنوم+ (پېرزو-) چې د ستاينومکړستې په توګه له (کېدل) سره د (پېرزو کېدل) ، او هممهال له(ول-استل) سره د يووستوي (لورېدل) همانيزېږي، لومړی يې له کېدل او همداراز د نورو (ټرښتي) نومکړونو په څېر له لېږند (کول-کړل) سره او بيا هله له اکرښود هغه سره اوړون مومي.
لومړی له (کېدل) سره ،لکه:
(زما-زموږ،ستا-ستاسې،د ده- ددې- ددويو) پر تا هرڅه پېرزوکېږي او پېرزو شوي دي، دا(د دوستانو) پرزوينې دي چې تل يې راسره کړې او لا کوي يې... ؛
دويم له اکرښود(ول-استل...) سره، لکه:
(زما-زموږ،ستا-ستاسې،د ده- ددې- ددويو) -پرتا تل ښه پېرزو ول،دي او وي به...؛
(۶) تولنوم + هېرېدل (→ نه يادېدل، پرياد نه راتلل، له ياده وتل)، لکه
(زما- زموږ،ستا-ستاسې، د ده- ددې- ددوي) هېر شول يا هېرېږي...؛
له اکرښود مرستيالکړ(ول- استل)سره:
(زما- زموږ،ستا-ستاسې، د ده- ددې- ددوي) هېر وو-ول يا هېر دی- دي
او همداسې يې نورې اوړوني اډانې (پرادېګماوې).

(۱-۷) تولنوم + يادېدل ( ياد ول- استل...)،د (نه هېرېدل ) او يا (له ياده نه وتل) په مانا)،لکه:(زما- زموږ،ستا-ستاسې،د ده- ددې- ددوي) يادېږي...او همدا سې يې تېرمهالې-ناتېرمهالې، بشپړې- نابشپړې...اوړوني اډانې(پرادېګماوې)؛
(۲-۷) تولنوم + يادېدل ( ياد ول- استل...) د (زده ول- استل)، (زده کېدل) او (→ راتلل) په جاج، لکه: (زما-زموږ، ستا-ستاسې، د ده-ددې- ددوی) فرانسي يادېږي-نه يادېږي او داسې نورې پرادېګماوې .

(۸) تولنوم+ساړه کېدل،دا ټرښتي نومکړ هم د نورو ورته زړو په څېر له اړوندو له اوښتيوتولنومونو ((زما-زموږ،ستا-ستاسې،د ده- ددې- ددويو)سره بشپړ اوړون لري
(۹) تولنوم+تبه (ول-استل...)، لکه: (زما-زموږ،ستا-ستاسې،د ده- ددې- ددويو) تبه وه-ده؛ له (شلېدل) سره هم راځي، خو له (کېدل-شول) سره يې بېلګې کومه يوه پيداشي، هغه هم د تېرمهال ځېل، لکه(زما- زموږ، ستا-ستاسې، د ده-ددې- ددوی)... تبه شوه، همداسې له نومونو سره، لکه (د زلمي، د زرمينې...)تبه شوه.

همداسې ډده- ډدې) لګېدل (...)، اړخ لګېدل ( سمون خوړل)،... درواخله!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

او په پای کې تولنوم+کړ) څو بېلګې چې (د لنډکیو غونډلو په چوکاټ کې د یوه غونډ (فقرې، عبارت) ته رالنډه شوې ده،لکه:

(زما- زموږ، ستا-ستاسې، د ده-ددې- ددوی) یې څه، یا (پرې څه)...

دغلته د اداتي نومځري (پرې) زیاتونه... جاج لږ په ښه ترا راڅرګندوي

لنډکۍ غونډله په دې ماناچې په ګړنۍ پښتو کې یې له ډېرکارېدنګ سره اړوند (فعل) له مرستیالکړ او نورو څېرمه توکو سره غورځېدلی(دی، لکه واخلې (زما له دې خبرې، کار، پېښې سره څه دي) چې د غږېدونکې یوه بې توپیري ( بې تفاو تي) را ښيي: په ما، تا... څه اړه نه لري،یا یې هممانیز متل: چې نه کار، هلته څه کار!

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ